United Nations — Nations Unies

**ملګري ملتونه**

**د سرمنشي دفتر**

**د ایډز د نړیوالې ورځ په مناسب پیغام**

**دسمبر ۲۰۱۱**

د ایډز څلورمې لسیزې ته په داخلیدو سره، موږ اوس په دې دریځ کې یو چې دغه ساري ناروغي (اپیډیمی) پای ته ورسوو.

هغه پرمختګ چې تر اوسه مو درلودلی دی د دې ثبوت دی چې موږ د صفر ایچ آی وی د ساري ناروغی، صفر تبعیض او د ایډز له امله د صفر مړینو د لرلید په حقیقت پوه شو.

د ایچ آی وی د نوو سرایتو نو کچه د ۱۹۹۷ کال څخه راوروسته ۲۰ سلنه راټیټه شوې ده. نوي سرایتونه د نړۍ په ډیرو برخو کې د ټیټیدو په حال کې دي. د افریقا په نیمه صحرا کې، هغه سیمه چې زیاتره د ایډز د ساري ناروغۍ له امله اغیزمنه وه، د ایچ آی وي پيښې په ۲۲ هیوادونو کې راکمې شوي دي.

د هغو وګړو ترمنځ چې د خطر د لاندې دي دغه څپه په تلو ده. د ایچ آی وي خدماتو ته رسیدنه د ځوانو وګړو، د جنسي کارکوونکو ، د هغوي د مشتریانو، هغو کسانو سره چې مخده توکي تذریق کوي، هغه نارینه وو سره چې د نورو نارینه وو سره جنسي اړیکه نیسی، او جنسی خنثی ( ټرانس جنډر) وګړو سره مرسته کوي چې د لا زیاتې سوکالۍ لپاره خپله روغتیا کنټرول کړي.

د ۱۹۸۵ کال راهیسې درملنې د ایډز اړوندو ۲.۵ میلیونو مړینو په دفع کولو کې مرسته کړې ده. یوازې تیر کال د ۷۰۰۰۰۰ وګړو ژوند ژغورل شوي دی. نږدې ۶.۶ میلیونه وګړي چې د هغو کسانو نیمایي ده چې په ټیټ او منځني عاید لرونکو هیوادونو کې درملنې ته اړ دي اوس ورته دغه درمله رسیږي.

د وقایي او درملنې یو ځای سره ته رسول دغه پرمختیا چټکه کړې ده. خو د دې لپاره چې ایډز پای ته ورسول شي، موږ زیاتو ښو پایلو ته باید ورسیږو.

سږ کال د جون په میاشت کې د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د لوړې کچې غونډې چې د ایډز په اړه وه د ۲۰۱۵ لپاره سترې موخې وټاکلې: د جنسي اړیکو له لارې د ایچ آی وي لیرد باید تر نیمایي راټیټ شي، په ماشومانو کې نوي سرایتونه له منځه ولاړ شي، د ۱۵ میلیونه هغو وګړو چې د ایچ آی وي سره ژوند کوي درملنه وشي، د بدنامۍ او تبعیض پدیده پای ومومی او د ایډز له امله موجوده تشه باید ډکه شي.

د یوې قوي سیاسي ارادې، د معقولو مادي زیرمو او د بشري حقونو پر بنسټ د یو ټینګ روش د لارې موږ کولای شو ټولو دغو هدفونو ته ورسیږو.

تمویل د بریالیتوب لپاره اړین او مهم دی. زه پر ټولو اړوندو اړخونو غږ کوم چې د تمویل د هغه پروګرام لپاره عمل وکړي چې د یو این ایډز د لارې مخې ته دی او په بشپړه توګه هغه نړیواله تمویلي موخه چې د کال

۲۴ میلیارده ډالر ټاکل شوې ده تمویل کړي. د دې پایلې او لاس ته راوړنې به دغه لګښتونه د یو نسل څخه په کم عمر کې جبران کړي.

موږ باید  د سیاسي ژمنې، تمویل، انرژي، فعالیت او ټینګ عزم سره پرمخ ولاړ شو چې هغو موږ دغه مهمې  نقطې ته رارسولي یو.

وخت او لحظې زموږ په ملاتړ کې دي. راځئ چې ورځخه د ایډز د پای ته رسولو لپاره کار واخلو. یو ځل او د ټولو لپاره.